**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی**

**مطبوعاتي اعلامیه**

۱۰ اکتوبر ۲۰۲۴

لا ډېرو معلوماتو لپاره دغه برېښنالیک ته ایمیل وکړئ: spokesperson-UNAMA@un.org

## یوناما د زندانونو په چارو کې د *برحاله* چارواکو له هغې ژمنې هرکلې کوي چې د بندیانو د حالت ښه کولو او د بشري حقونو د ټیمونو لپاره زندانونو ته د دوامداره لاسرسي ډاډ ورکوي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د افغانستان د زندانونو د چارو د سمون له *برحاله* اداري سره د خبرو اترو هرکلی کوي چې په ترڅ کې د دوی په بندي خانو کې د بندیانو د حالت د ښه کولو لپاره د دوامداره همکارۍ او خبرو اترو لپاره ټینګه ژمنتیا څرګندوي، او زندانونو ته د ملګرو ملتونو د بشري حقونو ټیمونو د لاسرسي څخه ډاډ ورکوي.

د یوناما مشرې او ځانګړې استازې روزا اوتنبایوا وویل "د بشري حقونو څارل او راپور ورکول په افغانستان کې، د امنیت شورا له خوا مونږ ته د راکړل شوي کار یوه مهمه برخه ده، او زه د زندانونو د چارو د سمون اداري د دې ژمنتیا هرکلی کوم چې په ټول هېواد کې زندانونو ته زموږ د بشري حقونو ټیمونو ته اړین لاسرسی برابر کړی، د هغو زندانونو په ګډون چې ښځینه بندیانې پکې ساتل کیږي. "د ملګرو ملتونو استازې او د یوناما مشرې وویل: "ټول بندیان بنسټیز حقونه لري او د دې ګډه لیوالتیا لرو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې دغه حقونو ته بشپړ درناوی وشي".

د سې شنبې په ورځ د *برحاله* زندانونو د چارو د سمون د اداري له رئیس مولوي صیب مستري سره په خبرو کې اوتنبایوا ګڼې اندېښنې مطرح کړې، د بیلګې په توګه د زیانمنیدونکو بندیانو، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره په کافي اندازه د حقوقي مرستې نشتون، د زندان د خدمتونو مسلکي کولو اړتیا، ترڅو د بندیانو اساسي حقونه په ښه توګه خوندي شي، او همدارنګه یې د دې یادونه وکړه چې څرنګه د عدلي او قضایي سیستم په پروسه کې نورې ننګونې لکه د نیونو لوړه کچه او د *برحاله* قضایي چارواکو له خوا د اوږدې مودې سزاګانې، پر زندانونو زیات فشار راوړي.

په دې خبرو کې د کابل پلچرخي له زندان څخه لیدنه هم شامله وه، چې له ۵ زرو څخه زیات بندیان پکې ساتل کیږي. اوتنبایوا ته خبر ورکړل شو چې د زندان نفوس مخ په زیاتېدو دی، چې په ورځني ډول زندان ته د داخلیدونکو بندیانو شمېر تر خوشې کیدونکو هغو زیات دی.

اوتنبایوا له خبرو وروسته وویل: "ما هم له دغه فرصت څخه په ګټې له ښځینه بندیانو سره وکتل او د هغوی د قضیو په تړاو مې د هغوی ستونزې په مستقیمه توګه واوریدې، په ځانګړې توګه د حقوقي مرستو د نشتون په اړه. باید ډېر کار وشي تر څو د حقوقي مرستې، چټکې محاکمې او د حبس بدیلو لارو چارو په ګډون په عدلي سیستم کې د بندیانو حقونه مراعات شي. هیله لرم چې د پراخ تعامل له لارې په دې برخه کې به افغانستان کې نور پرمختګ هم رامنځته شي" نوموړې زیاته کړه. "موږ باید همدارنګه پر هغو هڅو تمرکز وکړو چې په زندان کې ډېرو بندیانو د پاتې کیدو اصلي لاملونو ته رسیدګي کوي."

اوتنبایوا د زندانونو د چارو د سمون د مسولینو له خوا د بندیانو لپاره د ملګرو ملتونو د زیاتو مرستو غوښتنې واوریدې، په ځانګړې توګه د روغتیا، تغذیې، تعلیم او حرفوي روزنې په برخو کې، ترڅو د ژوندانه امکانات ښه کړي.

د سرمنشي ځانګړې استازې خبرداری ورکړ چې سره له دې چې بشري اړتیاوې څرګندې دي، خو د افغانستان لپاره نړیوالې مرستې مخ په کمېدو دي، چې لوی لامل یې د *برحاله* چارواکو له خوا د ښځو پر وړاندې دوامداره محدودیتونه او په دې

وروستیو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون نافذ کیدل دي، کوم چې په شخصي چلند او رفتار سخت محدودیتونه وضع کوي.

یوناما ته د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پرېکړه لیک له مخې ماموریت ورکړل شوی په کوم کې چې د ټولو افغانانو د بشري حقونو د ساتنې او حمایت لپاره له ټولو اړخونو سره تعامل شامل دی، چې په دغه تعامل کې د بندخونو څارل او د بندیانو د حقونو حمایت شامل دي. دغه ماموریت په دې وروستیو کې د ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) پرېکړه لیک له مخې تمدید شوی.

یوناما د *برحاله* چارواکو له نورو ادارو سره خپلو اړیکو ته دوام ورکوي تر څو ټولو بندی خانو ته له محدودیت پرته لاسرسی ترلاسه کړي، د هغو نظارت خونو په ګډون چې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست تر واک لاندې دي.

پای

***